مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله اریزی ۲۰۱۹/۰۴/۲۲

# نیمګړی ارمان

لنډه کیسه

دا ځای د رنګونو او ښکلاوو نندارتون دی. ځمکه یې هم ښایسته ښکاري. زړې غالۍ، ټغر او لیمڅي. دیوالونو ته په کتو نه مړیږي. پخواني تابلوګاني، زاړه انځورونه، مجسمي، عکسونه، نارینه او ښځینه جامې، سیکې، پستي ټکټونه، پخواني لوښي، کټوې، تبې، ځګونه، کندولې؛ امساګانې، جامې، لونګې، خولۍ، ځپلۍ، کناوې، کوسرۍ؛ د سینګار توکي لکه ګوتې، غاړکۍ، چاوکلې، ټیکونه، لجرومې، نتکۍ؛ زاړه کتابونه، د پخوانیو سندرو ټیکلی، لویې لرګیني راډیوګانې، راز راز ډېوې او لنډه دا چې د ذوق د خاوندانو د خوښې وړ شیان ننداري ته اېښی دي.

زه په داسي حال کې چې د نندارتون ځمکې، دیوالونو او فضا ته ګورم او خوند اخلم، ورو – ورو په مخ خوځم.

مخامخ د طبیعت یو ښکلی انځور جوړ دی. غر په ځنګلونو پوښلی او لمنې یې په شنو بوټو او ګلانو ښایسته دي. باد د دې ګلانو خوندور بوی لیرې سیمو ته په سوغات وړي. د غره له ډېدې څخه د رڼو اوبو ویاله د ونو په منځ کې کږه وږه لاندې بهیږي، د ویالې دواړه غاړو ته شین شوبی ولاړ دي چې د ګلانو د رنګونو تنوع یې ډېره په زړه پورې ده. د هیلیو بچیان د دې ګلانو ځنګ ته، لمر ته پراته دي او یو بل په مښوکو تخنوي.

له دې شین شوبو هاخوا، د ونو څانګې د میوو بار نه شي اوچتولی او لاندې کړې دي. د دې ونو میوې به هرومرو ډېرې خوندورې وي. سره انار، شنې مڼې، ژړ انګور، توري ګورګورې او... په دې منځ کې د شاتو هغه مچې څومره ښکلې دي چې په ګلانو کیني او پاڅي، د لمر په وړانګو کې وزر خوځوي او د کمکیو – کمکیو ډېوو په شان ځلیږي.

ما فکر کاوه چې دا سیمه به څومره اورډه موده داسې بې روحه پرته وي؟ ناګستوګنه ښایسته دره غمجنه او خپه ښکاریده. یو وخت مې یو ځای لوستي و چې یوه سیمه یوازې پاته وه او خپه ښکاریده. تر هغه وخته لا د انسان پښه هلته نه وه رسېدلې، ګلان په دې نه پوهېدل چې د چا له پاره غوړیږي؟ څوک نه و چې د چینو په لیدو خوشاله شي، رڼې اوبه نه پوهېدې چې د چا له پاره بهیږي او خپلې ځپې د چا ننداري ته وړاندې کوي؟

خو یو وخت په یو لیرې ځای کې د یو ښتمن سړي، ګران او نازولی ناروغه کېږي. پلار خپله ټوله هڅه کوي چې زوی روغ شي، ډېر طبیبان ستړي کړي؛ خو هڅې بې ګټې وي او رنځور بېسده کېږي؛ ځکه نو پلار د وروستی امید په توګه هیله کوي چې ناروغ په سفر وباسي، ګوندې د ځای بدلون ګټه ورسوي!

سفر اوږدیږي ، میاشتې او کلونه نیسي؛ خو ځوان همغسې بېسده پروت وي، تر هغې چې دې ښایسته سیمې ته رسي. هلته چې زمري او هوسۍ یو ځای اوسیدل. هلته چې مار کړی جوړوله چې مرغان ځالې پکې جوړې کړي او هلته چې هر څه مینه – مینه او پیرزوینه وو! د پسرلي په ښکلا کې رنځور ځوان آرامه سا وباسي، د دوبي په تودوخه کې لږ لاس او پښې خوځوي؛ خو د منې په طلایي چاپیریال کې ځوان د ستوماني ایستلو له پاره لاسونه پړانیزي او د ژمي په لومړني خوندوره واوره کې سترګې غړوي، بیا هم ستوماني باسي، له ځایه پاڅي، شاوخوا ته په خیر ګوري، په شونډو یې له مودو وروسته موسکا ښکاري او پلار ته غېږ پرانیزي.

ما داسې فکر کاوه لکه هغه سیمه چې هاغه ناروغ ځوان یې په سد او روغ کړی و، همدا ځای دی چې زه یې ننداري ته ولاړ یم. دا وړوکی انځور په اصل کې د ډېرې پراخه سیمې استازیتوب کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د راز – راز مرغانو آوازونه د لمر د وړانګو په څېر، په ټوله شنه سیمه خواره دي او څو مست سپین آسان پورته ځغلي. د غرڅه وو یوه رمه ها بلې خوا ته ولاړه ده. د دې غرڅه وو سترګې د کليوالي پيغلو د سترګو په شان ښايسته دي. زرکان، بوراګان، بټې، بلبلکې، کوترې، هيلۍ، زاني او نورې په زرګونو ښکلې مرغۍ لور په لور الوځي، لاندې مېږې او پسونه څرې. پاس په آسمان کې ګوربتان څرخکي وهي او ...

د دې ښايسته طبيعت په ننداره هيڅ نه مړيږم؛ خو هغه وخت لړ وځوريدم چې زمريان، پړانګان، ليوان، ګيدړې، سرکوزې، ماران، کاغۍ او نور وږونکي ښان مې وليدل. غوږونو ته مې د سپو غپا هم راغله، په ځانګو کې بېزوګاني ناستې دې او هاتيان لور په لور اوبه شيندي.

ما فکر کاوه چې دلته هر څه شته؛ خو انسان نه ښکاري. لکه چې هغه ناروغ ځوان له رغېدو وروسته له خپلو ملګرو سره ښېرته تللي او دا ښکلې سيمه يې بيا يوازې پرېښې ده!

ارمان راغی چې په دې ښایسته سیمه کې ولې ماشومان نشته؟، ولې په هغه رمه پسې شپون نه ښکاري؟ ولې د بین مار د شپلی خوږ غږ نشته؟ ولې څوک په هغه سپینو آسونو سپاره نه دي؟ ولې هلته یوه جونګړه نه ښکاري؟ ولې د هغه جونګړې مخې ته يوه پيغله نه ده ولاړه؟ ولې هلته نجوني په ټال کې نه زانګي؟ ولې ماشومان ښوونځيو ته نه دي روان؟ ولې هلته خلک په کار نه دي بوخت؟ ولې هلته بوډاګان لمر ته نه دي ناست چې د خپلو ځوانيو د وختونو کیسې ووایي؟ او ولې د خدای خلیفه ګان نشته؟

نو ځکه مې هيله وکړه چې دريغې دا ټول هيلۍ او زرکان او ليوان او پړانګان او نور په انسانانو بدل شوی وای چې د سيمې ښکلا، د لمر وړانګو، د مرغانو آوازونه او د ګلانو ښايست مانا پيدا کړی او د ستاينې ژبه راغلی وای!

بله ورځ بيا د هماغه سيمې ننداري ته لاړم. ننداړتون په ځای دی؛ خو هاغه د ښايستونو ننداره، هاغه ښکلی انځور يو بل شانې ښکاري! لکه چې سيمه ټوله په اور سوې. له ځنګل څخه لا هم سرې لمبې او تور لوګي پورته کېږي، د مېوو ونې او په ځمکه پرتې دي، ګلان رژېدلی، لور هر لور وژل شوي انسانان وينم، لکه چې د جګړې اور وچ او لانده يو ځای سيزلي او ټولو ښايستونو ته يې د پای ټکی ايښی!

يو ټيپي را ته وايي چې پاسنيو خلکو له کوزنيو څخه کرکه درلوده، سپينو تورو ته بد – بد کتل او تورو سپينو ته، څوک د چا په ژبه نه پوهېدل، ځينو لمر ته سر په ځمکه ايښود او ځينو سپوږمۍ ته لاسونه ليه کول، ځيني په ستورو مين وو؛ خو ځينو نورو کرکه ور څخه کوله.

ټيپي د ځنګل اور ته ګوته ونيوه او وې ويل: ورو – ورو کرکه هومره زورروه شوه چې جګړه ونښته او د لنډ ژوندانه ټوله ښکلا د وينو، اور او لوګيو په سمندر کې ډوبه او پوپناه شوه!

د ټيپي خبرې عجيبه وې. ده وويل چې وړانول څومره آسانه دی! وګوره چې هغه ښکلې مينه څومره ژر په اور وسوزېده او د ژوند غږ په ستوني کې ټپ شو!

او ما ته ارمان راغی چې دريغې دا هيله مې نه وای کړې چې خدايه ځناور په انسانانو بدل کړی!!

لومړنی طرح ۷ / ۱ / ۲۰۱۷

نيويارک – واشګن بس

بيا ليکل ٤ / ۷ / ۲۰۱۷

هارنم – هالند

پای ليک ۲۰۱۷/۱۱/۲۲

هوله مالی - مالديپ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ